بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه 21 شوال، ۱۴۴۵هـ | 2024/04/30م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/19

**مطبوعاتي اعلاميه**

## روسیه هم د امریکا پشان استعمارگر او د اسلام او مسلمانانو تاریخي دښمن دی؛ له دغه هیواد سره د سیاسي اړیکو پراخول د سختې اندېښنې وړ دي

د پوتین ځانګړي استازي، ضمیر کابلوف افغانستان ته په خپل سفر کې د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل. په دغې لیدنه کې د سرپرست حکومت د بهرنیو چارو وزیر په سیمه‌ییزو او نړیوالو ناستو کې د روسیې د ملاتړې دریځ مننه وکړه او له روسیې سره یې د افغانستان د اړیکو د مهم ګڼلو ترڅنګ د دواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي او سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ. دغه راز په یاد سفر پورې اړوند د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال هم افغانستان ته سفر کړی او د دواړو هیوادونو ترمنځ یې د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړي کولو ټیګار کړی دی.

د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغو سفرونو په اړه خپل سیاسي موقف داسې بیانوي:

**لومړی:** موږ له روسیې او د هغې له لاسپوڅو لکه قزاقستان سره د اړیکو نږدې کېدل، چې د سوداګریزو اړیکو د پراخولو تر شعار لاندې د سیاسي تعامل غوښتونکي دي، سخت د اندېښنې وړ بولو او اوسنیو حکامو ته د داسې اړیکو د دنیوي او اخروي عاقبت په اړه خبرداری ورکوو. په حقیقت کې روسیه له اسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ کې له امریکا، اروپا او چین سره توپیر نه لري. نو د روسیې پر وړاندې باید زموږ دریځ داسې وي چې روسیه یو استعمارګر هیواد او د اسلام او مسلمانانو تاریخي دښمن دی.

**دوهم:** موږ د مسلمانانو په توګه باید په افغانستان، منځنۍ اسیا، قفقاز په ځانګړي ډول چچن او همداراز افریقا کې د روسیې وحشتناک او تاریخي جنایتونه هېر نه کړو. موږ د روسیې او جنایتکار پوتین لخوا په سوریه کې د مسلمانانو ټولوژنه هیڅکله نه شو هېرولی. مسلمانان په حقیقت کې واحد امت دی؛ جګړه او سوله یې واحده ده. نو پخپله د روسیې د مسلمانانو، د منځنۍ اسیا، چچن، سوریې او افریقا د مسلمانانو پر وړاندې د روسیې جنایتونه د افغانستان د مسلمان ولس پر وړاندې د هغوی د جنایتونو پشان ګڼل کېږي.

**درییم:** د اوکراین-روسیې جګړې له پیل وروسته روسیه د غرب تر اقتصادي او سیاسي بندیزونو لاندې ده. له افغانستان سره د روسیې او منځنۍ اسیا د هیوادونو تعامل د دغو بندیزونو له مخې لرې کولو او نوو ټرانزیټي او سوداګریزو مسیرونو پیدا کولو په موخه دی. په ورته وخت کې، روسیه په افغانستان کې د مجاهدینو او جهادي فکر له شتون څخه سخته اندېښمنه ده. ځکه خو یې سیاسي ګټې ایجابوي چې د افغانستان له حکومت سره د نږدې تعامل سیاست مخته یوسي. همدې روسیې په ۲۰۰۳ کال کې «د طالبانو خوځښت» د «ترهګرو ډلو» لیست ته زیات کړ. خو اوس یې چې ګټې بدلې شوې، په نوې څېره رامخته شوې. واقعیت دا دی چې د روسي سیاستوالو زړونه له اسلام او مسلمانانو سره له دښمنۍ ډک دي.

موږ هغو کسانو ته چې پېښو او د هیوادونو سیاسي کړنو ته سطحي ګوري، وایو چې باید ژور فکر وکړي او د استعمارګرو هیوادونو په خبرو، دریځونو او نرمو سیاستونو ونه غولېږي. موږ پر خپلو مجاهدو ورونو ټینګار کوو چې سیاسي واقعیتونو او پېښو ته د شته سیاسي واقعیتونو او ملي ګټو له عینکو نه، بلکې د اسلامي عقیدې له عینکو وګوري. ځکه هغو کسانو ته چې د اسلام ادعا کوي، اجازه نشته چې سیاسي پېښو ته د اسلام له زاویې او نړۍ‌لید پرته، له بلې زاویې او نړۍ‌لیده وګوري.

**يا أَيهَا الَّذينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا الْكافِرِينَ أَوْلِياءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَ تُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيكُمْ سُلْطاناً مُبِيناً** [نساء:144]

**ژباړه:** *«اې مومنانو! د مومنانو پر ځای کافران خپل دوستان او ولیان مه نیسئ ایا تاسې غواړئ (په دغه کار) الله ته د ځان پر ضد څرګند دلیل ورکړئ!؟»*